مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان

۲۰۲۳/۰۱/۲۱

غـــزل

چې سندره د نرګس مې شبنمې ده
راسره د وچکالیو نیت کمې ده

ستا خبره په خوږوالي توره ګوړه
ښایسته تر مرغلرې تر غمې ده

زه د لایتناهي خواته روان یم
خو دمه مې په شفق د ماښامي ده

یا وي سیوری یا شمال د خورو زلفو
په کې ټکندې غرمې راغلې ګرمې ده

میخانه ده سمندر سمندر تنده
ساقي ستا د سترګو څومره کریمې ده

بې جانانه خوشحالۍ له غمه ډکې
له جانان سره غمونه بې غمې ده

خدایه ته یې مل پر لاره شې د مینې
د کاروان دې بې کسي ده محرومې ده

۴ عقرب ۱۴۰۱ هجري شمسي، خوست توره وړۍ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ